مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سردار محمد روشن
رالیږونکی: احسان الله اړینزی

۲۰۲۴/۰۴/۰۹

# روشن دل روشن احمد شاه

## میدان وردک ولایت د تاریخ په اوږدو کې

## وردک د تاریخ په بهیر کې سیمینار

## نهمه مقاله

روشن دل د احمد شاه خان زوی چه په روشن احمد شاه متخلص وو په ۱۲۹۴ هجری شمسی کال د وردګو د جغتو د ګنده کهول( اوس ګلدره) په کلی کښی د هغه وخت په یوه علم پروره کورنی کښی دنیا ته راغلی. پلار یی د ده د پیدا کیدو په وخت کښی د غزنی په عسکری فرقه کښی د توپچی یو ځوان او لایق صاحب منصب وو. ښاغلی روشن د طفولیت لمړی لس کاله د خپل مهربان پلار تر سیوری لاندی په خاصه د عزت او مهربانی فضا کښی تیر کړی.
په هغه وخت کښی منظم ښوونځی په هیواد کښی لا نه وو عام شوی خو د ده په شپږ کلنی کښی یی ځوان پلار په کلی کښی په خپله قلا کښی ښوونځی پرانیستلی ځو دی، د ده ورونه او نور خپلوان ماشومان پکښی زده کړه وکړی.
د دی دوری ښوونکی یی یو کس د غزنی ولایت د هزاره علماوو نه د غلام علی په نامه دی. روشن احمدشاه د اوله په زده کړه کښی خاص استعداد او مینه ښودلی چه د هغه د کبله یی د مشرانو او کورنی مینه ځان ته اړولی.
دی په خپلو خاطراتو کښی د استاد غلام علی د تدریس د کیفیت او په ټولګی د هغه انضباط نه ډیره ستاینه کړی او وایی چه درس به په هغه ټولګی کښی ټول کال د شنبی تر پنج شنبی د سهاره تر مازدیګره دوام درلود. د دوو کالو ابتدایی تعلیم نه وروسته د استاد غلام علی دنده ختمیږی او په ځای نوی استاد د محمد علی په نامه چه د غزنی د تورمی د کلی د هزاره علماوو څخه و ګمارل کیږی.
په اته کلنی کښی یی په هیواد کښی د وخت د حکومت د وسله والو مخالفینو یو تحریک چه د ملای لنګ په اغتشاش مشهور دی را منځ ته کیږی. تحریک د افغانستان د جنوبی سیمو نه پیل کیږی او په چټکی سره د لویی پکتیا ډیری سیمی لاندی کوی تر لوګر، غزنی او وردګو پوری را رسیږی. په لوګر کښی د التمور په سیمه کښی د حکومت یو مرستندوی غونډ د غونډ جان فدا په نامه د مخالفینو له پلوه محاصره او په مکمله توګه له منځه ځی. د غزنی په ډیری سیمو کښی مخالفین مسلط کیږی او خپله د غزنی بالاحصار تر کلکه محاصره لاندی راځی.
د ملای لنګ تر مشری لاندی وسله والو مخالفینو سیمی ته را رسیدل د ښاغلی روشن او د ده یه کورنی بیله اغیزه لرله او هغه دا چه د ده پلار احمد شاه خان د حکومت په ځواکونو کښی د غزنی د مخ کښو مدافعینو نه وو. ده د عسکری مسلکی مهارتونه نه علاوه قومی او ولسیز نفوذ او اثر هم درلوود او د حکومت د عسکرو نه سربیره یی قومی داوطلب قطعات هم ور سره وو. نو کله چه د مخالفینو لښکری د وردګو د جغتو سیمی ته را رسیږی د دی ګونګوسه خپریږی چه مخالفین به د احمد شاه خان زامن برمته کوی تر څو دی دی ته اړ کړی جه د ښار دروازه مخالفینو ته خلاصه کړی. البته دی منصوبی حقیقت هم درلود؛ خو د سیمی د مشرانو په تدبیر، درایت او سیاست دا منسوبه شنډه کیږی او روشن احمد شاه او کورنی یی د دی خطر نه خوندی پاتی کیږی.
د حکومت قواوی ورو ورو د هره پلو پر مخالفینو بری تر لاسه کوی، د غزنی ښار محاصره ختمیږی او د حکومت قواوی د جرنیل محمد عمر خان ناصری چه په سور جرنیل معروف دی دښمن د ځدرانو تر غرنی سیمه پوری تعقیبوی. احمد شاه خان په دی وخت کښی د کرنیلی رتبی ته ترفیع کړی او د سور جرنیل د معاون حیثیت لری.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دی همالته سخت نا روغ کیږی او د ناروغی په حالت کښی په تخت روان کښی کلی ته استول کیږی او هلته په ځوانی کښی چی پنځه ځلویښت کلن و او په داسی وخت کښی له دی دنیا څخه ځی چه روښن احمد شاه لس کلن دی او مشر ورور یی شپاړس کلن و. دوی خویندی یی تر دوی مشرانی وی او دری نور ورونه یی تر دوی کشران وو.
د پلار د مرگ نه وروسته دا معتبره کورنی د کونډی او یتیمانو په کورنی بدلیږی چه په هغه کښی داسی څوک چه د کورنی دارایی او مځکی سمبال کړی شی نه وو پاتی؛ خو د کرنیل احمد شاه خان د مرگ د غم د تېغر د ټولیدلو نه وروسته د ده با همته میرمنی د خپل اولادونو د روزنی دندی ته په زړورتیا ملا تړی او کوم ښوونځی چه د دی خاوند بنا کړی و هغه بیرته فعالوی. کرار کرار کورنی د سرپرست د نشتوالی په سبب خپله اقتصادی توانمندی د لاسه ورکوی؛ خو د هغی سره سره د کور ښوونځی نه تړل کیږی او روښندل روښن هلته د څو پیاوړیو استادانو له پلوه تر لسو کلونو زیاته زده کړه کوی.
روښن احمد شاه کله چه ځوانی ته رسیږی د ده د ځوانی لمړی شیبی په هیواد کښی د پرله پسی نا ارامیو اواغتشاشاتو سره یو ځای واقع شوی. د امیر امان الله خان د حکومت سقوط او په هغه پسی اغتشاشات د هغه وخت په ځوانانو کښی د خود سریو، غلاوو او تشدد فرهنگ خپور کړی وو؛ خو د هغه سره سره زما پلار په هغه ځوانی کښی هم په نیک سلوک، دیانت، صداقت او امانت داری شهرت مومی. د زده کړی سره خاصه علاقه ښیی؛ خو د کورنی شلیدلی اقتصاد او تنگدستی او په هیواد کښی د پر له پسی نا ارامیو په نتیجه کښی د ده لاری بندی دی او د ځوانی دا دوره یی په بی سرنوشتی او لالهاندی او تنگدستی کښی پیل کیږی. تر څو چی د ۱۳۱۶ کال د چنگاښ د میاشتی په ۷ نیټه عسکری خدمت ته جلبیږی او ځی چی د ریشخور په فرقه خپله دوه کلن عسکری مکلفیت تر سره کړی.
په عسکری خدمت کښی د ده د پاره د لمړی ځل د ده د استعداد او ممتاز سلوک د ځلیدلو زمینه مساعدیږی. کله چه د ده امرین د ده استعداد او سواد ته متوجه کیږی؛ نو ده ته د کوټ حوالداری یا د ټولی د کتابت دنده ور په غاړه کوی؛ خو هلته ډیر زر توجه جلبوی او بیا وروسته یی مربوطه کنډک مرکز ته انتقالیږی چی د صدارت او نورو دولتی دوایرو محافظت په غاړه واخلی او هلته د کنډک اداری معاون کیږی. دا کنډک د نورو مسوولیتو تر څنگ د صدارت د امنیت د چارو د تامین مسوولیت هم په غاړه لری. د صدارت د امنیتی قطعی ټولی مشر محمد رستم خان وردک دی چه د لوړ شخصیت خاوند او صدراعظم محمد هاشم خان ته یو منلی سړی و. محمد رستم خان مرحوم د هغه کسانو نه وو چه په عسکرو کښی به یی د ښو کورنیو با سواده عسکر تر نظر لاندی نیول او معرفی کول به یی چه وروسته له ترخیص ځخه په مختلفو ادارو کښی استخدام شی.
له عسکری خدمت څخه د ترخیص سره سم روښن په صدارت عظمی کښی د ابتدایی مامور په حیث مقرریږی . بیا د ننگرهار ولایت د ډکی سرحدی مرکز ته خدمتی کیږی. دا نو هغه مهال دی چه جرمنانو او روسانو پولند لاندی کړی او دوهمه نړیواله جگړه په پیلیدو ده.
د نړیوالی دوهمی جگړی یاداشتونه یی چه دهغه وخت د محدودو خبری منابعو نه اخیستی چی د څلویښتو عادی پاڼو په شاوخوا کښی دی چه د خپلو خاطراتو په مجموعه کښی یی ټول کړی. دا یاداشتونه د جگړی نظامی، سیاسی او اجتماعی اغیزی، په جگړه کښی ښکیلو هیوادونو او نوره نړی کښی د هغه وخت د یوه ځوان او کنجکاوه افغان له نظره انځوروی. اوس چی د دی خونړی جگړی تفصیلی معلومات عام شوی؛ نو د دی معلوماتو په رڼا کښی د ښاغلی روښن یادداشتونو هیڅ داسی مورد نه لیدل کیږی چه د واقعیتو سره په تناقض کښی وی؛ نو دا د روښن احمد شاه د سرشاره استعداد او دقت یو مثال دی.
زده کړه او مطالعه یی د ځوانی نه د عمر تر پایه پوری پری نه ښوده. د ده د ماموریت پیل د ده ورونو، خپلوانو او ډیرو غیر خپلوانو وردگو ته د زده کړی زمینه شوه. ځوانان به یی تشویقول چی درس ته مخه کړئ. پخپله به یی د دوی د لوست او زده کړو مراقبت کاوه تر دی چی دومره سواد پیدا کړی چه په دفترونو کښی ونیول شی. د کارونو په پیدا کولو کښی به یی مرستی ورسره کولی. صداقت، پاک نفسی او د لوی څښتن عبادت یی کورنی او دوستانو ته مثال او سرمشق و. د کوم وخت نه چه زما سترگی د ماحول په لیدلو توانیدلی بیا د ده تر وفاته پوری نه می یی په لمانځه کښی د ده غفلت په یادیږی او نه می یی د سهار د لمانځه نه وروسته د کلام مجید د تلاوت قضا کیدل.
په ۱۳۲۱ کال کښی د پکتیا د استخباراتو د امر په کوگه مقرریږی او د دی امریت اوه کلنه دوره په ۱۳۲۸ کال کښی ختمیږی او کابل ته د قبایلو د نوی مستقل لوی ریاست د اطلاعاتو د لوی مدیر په توگه مقرریږی. تر دی مهاله د ده تعلیمات د ده پلار په کور کښی خصوصی ښوونځی لس کلنه تعلیمی دوری پوری محدوده وه؛ خو کله چه کابل ته بدلیږی دلته خپلی عصری زده کړی د کابل پوهنتون په حقوقو پوهنځی کښی بشپړوی. دلته د خپلی ډیری درنی رسمی وظیفی تر څنگ په لیکنو او علمی ټولنو کی فعاله ونډه اخلی. د ۱۳۳۲ هجری شمسی نه تر ۱۳۳۶ کال پوری شپږ کتابونه او رسالی د پښتنو او بلوڅو د ټاټوبیو په جغرافیه، تاریخ او د استعمارگرو په زیاتیو باندی لیکی چی نشر شوی.
د هغه وخت په نخبه گانو کښی یی ښهرت او معرفت زیاتیږی او په سیاسی او مدنی کړیو کښی د کردار او گفتار د صداقت په خاطر محبوبیت پیدا کوی. یو د هغه مشرانو نه چه دی ډیر پری گران وو هغه شهید محمد داوود خان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وو. هغه چې وطن ته زړه سواندی افغان و؛ نو د صادقو او با کفایته افغانانو په پیژندنی پسی به یې پام و، زما په پلار ډیر مهربانه و او تل به یې په خاصو مواردو کښی مشوری ته غوښت او کارونه به یې ورته سپارل.
په ۱۳۳۶ کال کښی د خوشحال لیسی زده کوونکو د لیسی د مدیر په ضد احتجاج و کاوه او د ښوونځی څخه ووتل چه بیرته خپلو کورونو ته د دیورند د لیکی اخوا ولاړ شی. د حکومت لوړو مقاماتو نصیحتونو او مرکو باندی زده کوونکی قانع نه شول صرف دومره یې وکولی شول چه د پولیسو په زور زده کوونکی را وګرزوی او په باغ بابر کی یې ایسار کړی. دا پنځم مدیر و چی د ښوونځی څخه د دوی د کلکی او وچی عسکری ډوله اداری په خاطر د ورته پایلی سره مخ شوی و. دا داسی وخت و چه د پاکستان صدراعظم سهروردی کابل ته په رسمی سفر را روان و او که چیری په دی حساس وخت کښی په افغانستان کښی د پشتنواو بلوڅو زده کوونکو سره د بد چلند خبر وتلی وی؛ نو حکومت ته به ډیره ګرانه تمامه شوی وی.
صدراعظم سردار محمد داود خان زما پلارغواړی او د ښوونځی د مشکل د حل په باب نظر ځینی غواړی. فیصله په هغه وخت کښی دا وه چه که ممکنه وی چه د ښوونځی کړکیچ د پاکستان د صدراعظم تر بیرته تګه پوری خوندی پاته شی. کله چه میلمه بیرته ولاړل بیا به د ښوونځی د دایمی تړلو بند او بست کیږی. د ما پلار په قبایلو ریاست کښی د دندی په تړاو د ښوونځی په مشکلاتو پوره خبر و او هم یی د اصلاحاتو په باب وړاندیزونه لرل. د ښوونځی تړلو سره یی مخالف نظر ورکړی و. تر دی وخته د ښوونځی ټول ناکام مدیران عسکری صاحب منصبان وو. د ما د پلار استدلال دا وو چه مشکل په زده کوونکو کی نه دی بلکه په مدیرانو کښی وو چه دوی عسکری داسی صاحب منصبان وو چه په ملکی پوهنه او روزنه کښی یی تعلیم او تجربه نه لرل. صدراعظم هدایت ورکوی چه په دی صورت کښی به ته پخپله د اوسنی وظیفی نه علاوه د خوشحال خان د لیسی د مدیریت مسوولیت هم په غاړه اخلی.
کله چه روښندل روشن احمد شاه د نوی مدیر په حیث د پوهنی وزرت د معین له پلوه معرفی کیږی، زده کوونکی لا مرور دی او درسونو ته نه ځی. دلته که د تیری اداری ملامتی وه؛ خو دا هم معلومه وه چه مخربی او دستوری څیری هم د وضعی د لا خرابولو د پاره فعالی وی. خو د روشن صداقت، فصاحت او تعهد زده کوونکی په دوو ورځو کښی حاضر کړل چه اعتصاب مات او صنفونو ته ولاړ شی. د هغه نه وروسته اصلاحات پیل کوی، تدریسی چاری سمبالیږی، لیلیی او د ورزش ځایونه سمیږی. په یوه کال کښی د خوشحال خان لیسه د کابل د لیسو په قطار کښی کی په تدریسی برخه کی او یا سپورتی مسابقاتو کښی ډیره ښه و ځلیده. د ده محبوبیت په استادانو او زده کوونکو کښی ډیر اوچت شو او دوستی یی د ده د ژوند تر پایه پاتی شوه.
په ۱۳۳۷ کال د خوست د حکمران په توګه مقررېږی . څه باندی یوه کال هلته پاتی کیږی، له هغه نه وروسته یی د هلمند، جوزجان، غزنی، ارزګان، بدخشان او بیا غزنی ولایتونو کښی د والی په صفت خدمت کړی. په ۱۳۵۰ کښی د لویی پکتیا د خلکو او پارلمان غړیو په خواست د لویی پکتیا د لمړنی .ملکی والی په حیث مقرر شو چی تر ۱۳۵۵ پوری یی دوام وکړ
په ۱۳۳۷ کال کښی د استقلال په جشن کښی خان عبدالغفار خان هم د دولت میلمه و، په دی وخت کښی د ما پلار د خوست حکمران و. صدراعظم محمد داوود خان زما پلار د پاچا خان خاص میلمه پال وټاکه. په افغانستان کښی د پاچا خان په لوړه کچه عزت او پذیرایی وشول. په کابل او شاوخوا کښی یی د لیدلو په ټولو ځایونو وګرځاوه بیا یی قندهار او هلمند ته بوتلو او هلته یی د هلمند او ارغنداب تاسیسات او تاریخی اثار پری وکتل او په هر ولایت کښی یی د یوه دولت د رییس د پروتوکول سره سم پذیرایی کړ. د دی نه وروسته دا میلمه پالی د پاچا خان او زما د پلار په دوامداره دوستی بدله شوه. په هر ولایت کښی به چی زما پلار والی و یو ځل به یی پاچا خان هلته میلمه کاوه. وروسته بیا په دی دوستی کښی د دوی د پلوه اجمل خټک او د پاچا خان زوی خان ولی خان او زموږ د پلوه تاج محمد خان وردک زما تره او امان الله خان حیدری زما خسر هم ورګډ شول. په افغانستان کښی روشن احمد شاه او د ده کورنی دوستی تر پایه ډیره توده و ساتله؛ خو کله چه دوی د باچا خان ټاټوبی ته پناهنده شول؛ نو هلته بیا د باچاخان او د ده د کورنی پته ونه لګیده.
په ولایاتو کښی د خدمت په دوره کښی د ده کار د خلکو د ژوند د سطحی لوړولو نه تر ټولنیزو خدمتونو او انکشافی چارو کښی خاصه برجستګی لرله. دی په طبعیت خورا نرم او زړه سواندی سړی و؛ خو د هغه کسانو په مقابل کښی چه زیاده روی به یی د اقوامو تر منځ د نفاق عامل ګرځیده بیا تر بل هر چا نه شدید او سخت ګیر و. د خوست په حکمرانی کښی د ده په وخت کښی د قومونو او قبایلو تر منځ ډیری زړی معاملی او بدی چه هرکال به یی ډیر تلفات راوړل حل شوی. ځینی قومونه او سیمی د وطن نه په عملی شکل جلا وی. د مثال په توګه موسی خیل منګل حکومت ته یاغی وو او سرک یی پخپله سیمه کښی نه پریښود. دی پخپله موسی خیلو ته ولاړ او کلی په کلی و ګرځید تر څو یی ولس قانع کړ او بیا پسی سرک جوړ شو.
د هلمند ولایت په هغه وخت کښی د ګرشک اعلی حکومت یادیدو او مرکز یی لا د ګرشک په ښار کښی و. په هلمند کښی هغه مهال د هلمند پرمختیتایی پروګرامونه په ډیرو عرصو کښی لکه د کرنی پراختیا، د اوبو لګولو د نهرونو او بندونو جوړول، د لشکرګاه د ښار او چاه انجیر، مارجی او څو نورو ښارګوټیو جوړول او نورو ټولنیزو پرمختیایی برخو کښی په شدت سره روان وو. ټول دا کارونه د امریکایی کارپوهانو او متخصصینو تر اداره او څارنه لاندی په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډېره اساسي توګه د پلان او نقشې له مخې تر سره کېدل. دلته د کارونو نظم او دقیقه پلان ګزاری او مدیریت او دهغه اثر د کارونو د چټک او بې عیبه بشپړېدو کښې مشاهده کړل او په هغه خاص استعداد چه ده درلود د هغه نه یې ډېر څه زده کړل. هماغه و چې کله چه شبرغان ته تبدیل شو هلته یې دا زده کړه په کار واچوله.
د هغه وخت د شبرغان اعلی حکومت اوس په جوزجان او سرپل ولایتونو ویشل شوی. روشن د ۱۳۳۹ کال په قوس کې د شبرغان ښار ته ورسید چې لکه یوه لویه کنډواله داسې و. یو نیم کال وروسته چې د هغه ځایه وتلو نو یو ښکلی او منظم ښار هلته جوړ شوی و. له شبرغان نه علاوه سرپل، سنګچارک، اقچې، قرقین او خمیاب هم پلان شوی ښارونه وموندل. دا په داسې حال کښې و چې هیڅ ډول انکشافي بودجه د دې کارونو د پاره په لاس کښې نه وه؛ خو په روشندل احمد شاه کښې دا ظرفیت موجود و چې د خلکو اعتماد جلب او دوی ته د دوی خپل ظرفیتونه ور و پېژنې چې ګټه تری پورته کړی.
په کومو ولایتونو کښې یې چه کار کړی لوی باغونه یې جوړ کړی چې د جوزجان جنګلباغ تر ټولو لوی او اوس هم د هغه منطقې د ډېرو ښکلیو او معموره هستیو په جمله کښې شمیرل کیږی. غزنی، ارزګان، بدخشان او پکتیا کې یې هم د ښار جوړولو په برخه کښې ورته لاس ته راوړنې لرلې. د غزنی د پخوانې نوی ښار، په غزنی کښې د لس ګونو تاریخي مقبرو ودانیو او نورو تاریخي او فرهنګي اثارو بیا رغونې د ده د لاس نښې دی. په دې ولایت کښې یې کاریزونو ته ډېره توجه وه او خلک یې تجارتي باغداری ته ترغیب کړل. حتی تر دی حده چه که چا تر پنځوس جریبه ځمکه زیاته لرله نو مجبور وو چه په هر پنځوس جریبه لا اقل یو جریب باغ کړی خصوصا د انګورو باغ. په داسې حال کښې چه غزنی باغونو ته ډېر مساعد دی؛ خو تر هغه دمه تجارتي باغداری ته د چا توجه نه وه. په دې توګه په غزنی کښې د ده د ولایت په لمړی دوره کښې ( ۱۳۴۳-۱۳۴۱ ) یواځې د مقر په ولسوالی کښې په یوه کال کښې ۸۰۰ د انګورو باغونه خلکو کینول. په مرکز او نورو ولسوالیو کښې هم دا لړی روانه وه. په ۱۳۵۰ کال کښې کله چه د دوهم ځل د پاره غزنی ته لاړ، غزنی په هیواد کښې د انګورو او ممیزو د تولید او صادراتو په یوه نوی لوی مرکز باندې بدل شوی وو.
د خلکو سره یې متقابل احترام تر دی حده وو چه په ولایاتو کښې به ده ته خلکو د والي یا امر په سترګه نه بلکه د یوه مشر او مصلح په سترګه کتل. له همدی کبله په ولایاتو کښې خلکو د ده تر مشری او رهنمایی لاندې داسې لوی لوی کارونه تر سره کړل چه ناشونی به بلل کیدل. په غرونو کښې اوږده سرکونه لکه د شهرستان او دای کوندیو تر منځ سرک، په بدخشان کښې د فیض اباد او یفتلونو تر منځ سرکونه ځینې مثالونه دی.
د ارزګان په ولایت کښې په خاص ارزګان کښې یو داسې کانال جوړ شو چې دهغه ځای په هزاره میشته سیمه کښې زرګونه جریبه ځمکه تر اوبو لاندې راغله. همدا راز په تیرین کوټ کښې د نوی نهر په جوړیدو سره ډېری کرنیزه ځمکې، باغونه او شاړې ځمکې خړوبې شوی. د ولایت اوسنی مرکز د ده په دوران کښې تاسیس شو، د تیرین کوټ، دهراود او نورو ولسوالیو شهری نقشې ترتیب او ښارونه تر ډېره حده جوړ شول. بدخشان د فیض اباد نوی ښار اساس د ده په وخت کښې کیښودل شو او د لمړی ځل د پاره د کوکچې سیند نه هلته اوبه راوستلې شوی.
د پراختیایی پروګرامونو د د تطبیق نه علاوه مرحوم روشن په هر ولایت کښې دقیقې مطالعې تر سره کړی او نتیجې یې په حرفه ای توګه ثبت کړی. د پینځو ولایاتو مطالعات یې په یوه مجموعه کې غونډ کړی وو. د ی مجموعې چه عنوان یې (<u>پنج ولایت کشور) دی</u> په کال ۱۳۴۹ کښې د پیر روشان ادبي جایزه وګټله. په دی اثر کې په هغه ولایتونو کښې چه ده کار کړی تاریخي، سیاسي، اجتماعي، جغرافیوی، اقتصادی او بشر شناسي معلومات راټول شوی.
په دی اثر کې د پینځو ولایاتو مطالعه بیله بیله راغلې ګواکې اثر د پینځو بیلو کتابونو په شکل تنظیم شوی. په هر کتاب کښې د یوه ولایت مختصره معرفي او جغرافیایي موقعیت راغلی. تر هغه وروسته د هغه ولایت میشتو خلکو قومي، لساني او مذهبي پیژندنه شوی او د هیواد په معاصر او باستاني تاریخ کښې د ولایت ونډه وروسته له دقیقې څیړنې نه او د معتبرو اثارو په حواله درج شوی. په دی ولایاتو کښې د میشتو افغانانو عنعنې او دودونه، حساسیتونه او نور خصوصیات ثبت دی. د هر ولایت اقتصادی زیرمو حوزی په تفصیل سره معرفي کیږی، د هری سیمې کلي او په هر کلي کښې د نفوسو شمیری شته . په کوم وخت کښې چه دا معلومات تنظیم شوی و؛ نو د پکتیا، غزني، بدخشان، جوزجان او هلمند ولایاتو په باب د تر ټولو معتبری معلوماتي مرجع په توګه ارزول شوی او د شهید محمد داوود خان د حکومت تر پایه به د هغه څخه استفاده کیدله.
د چنګاش د ۲۶ کودتا په وخت دی د هیواد د یوه ډېر مهم او ستراتیژیک ولایت لویی پکتیا والي و. په هیواد کښې د ورځ تر ورځ زیاتیدونکې بحران چې د شاهي نظام په وروستیو کښې محسوس، و دی ډېر نګرانه کړی و او د ډېرو نورو دانشمندو او مجربو مشرانو په شان دی هم د یوی نظامي کودتا د واقع کیدلو نه په تشویش کښې و او ټول ظروف او شرایط یې ورته موجود کڼل. د سرطان کودتا چه د سردار محمد داوود به مشری تر سره شوه ده ته هم له یوی خوا د تسکین وړ خبره شوه. خو له بلې خوا دا تشویش ورسره وو چې اوس د ټول هیواد سرنوشت په یوه سړی پوری و تړل شو؛ ځکه په شاهي نظام کښې که پادشاه نه وی وارث یې معلوم وی او د قدرت سوله ییز انتقال پکښې تضمین وی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دی تشویش په لرلو سره ښاغلی روښن د کودتا وروسته په بیړه کابل ته راغی او د یوه مخلص دوست په حیث یی د دولت رییس ته عرض وکړ چه تر هرڅه د مخه د نظام اسیب پذیری نکتی تقویه شی په تیره د رهبری د سوله ییز لیږد فورمول باید تر هر څه د مخه تنظیم شی او سیستم باید موحودیت ولری. داوود خان خبره مهمه بللی وه؛ خو ورته ویلی یی و چی په دی به وروسته غږیږو؛ ځکه تر اوسه حالات داسی نه دی چه سیستم پکی و چلیدی شی. ز ما پلار بحث ته نور دوام نه و ورکړی؛ خو د داوود خان ځواب یی داسی تعبیر کړی و چه ګویا دی پخپله ځان هر څه بولی او سیستم جوړول ورته غیر ضروری ښکاری.

مخکښی د چنګاښ د کودتا نه هم د پکتیا ولایت په ځینو سیمو کښی ولایت ته د خلکی پرچمی تحریکونو فعالیتونه امنیتی او سیاسی سرګردانی بلله کیدله. دوی به کله دواړه د حکومت په ضد سره یو وو او کله به ی په خپل منځ کښی یو بل سره رټل او وژل. له بلی خوا، دینی علما او دینی مدرسی حتی ولسی خوځښتونه به د دوی دواړو په مخالفت ولاړیدل. د کودتا یو دوه کاله مخکښی د دی تحریکاتو په نتیجه کښی بدی پیښی وشوی. په دی کش او ګیر کښی زما د پلار دریز که له یوی خوا قانونی و؛ خو له بلی خوا ملی او اسلامی و. ډیر وخت به داسی وشول چه ځینی زمامدارانو به د چپی نهضتونو د تهدیداتو تر تاثیر لاندی راتلل او قانونی برخورد به یی یا نشوی کولی او یا به یی نه کاوه؛ خو روښندل وردک د چا تهدید ته د سر په ټیټولو نه وو بلد. له همدی کبله به خلکیانو په خپلو نشراتو او تبلیغاتو کښی ده ته هم د سپین پګړیو ملګری چه د سپین خولیو (د اشوب ضد پولیس) مشر دی خطاب کاوه.

د شهید داوود خان په حکومت کښی د پکتیا د ولایت نه علاوه د پکتیا د انکشافی پروژی رییس هم شو. د هیواد رغونه د ده د ژوند لوی ارمان و او د انکشافی پروګرامونو په پلی کولو کښی یی خاص استعداد او علاقه لرل. له همدی کبله د شهید داوود په حکومت کی د خلکی پرچمی عناصرو د کشمکشونو سره سره یی څه کم دری کاله کار ورسره وکړی شوی ؛خو وروسته کارونه ورځ په ورځ مخ په خطرناک استقامت روان وو. زما پلار د جنرال مستغنی او شهید جنرال عبدالعلی خان او نورو دلسوزو وطن پالو په ملګرتیا ډیری هڅی وکړی چی د دولت رییس په مخ کښی خطرونو ته متوجه کړی ؛خو ګټه یی و نه کړه تر څو یی چی په ۱۳۵۵ کال کښی تقاعد وغوښت.

یو کال وروسته کله چه شهید داوود خان د شوروی او شوروی عمالو نه د وطن د خلاصولو هوډ وکړ؛ نو یو شمیر پخوانی وطن پال دوستان یی بیرته ور وغوښتل. په دی ډله کښی یی روښن احمد شاه هم وغوښت او وروسته یی د لویی جرګی د مشر ناظم په توګه هم توظیف کړ. خو هلته یی په خپلو سترګو د داوود خان د حکومت د اراکینو ناتوانی لیدله او ځوریده.. په تیره دا چی د داوود خان کلیدی وزیرانو د ما پلار ته مراجعه کوله چی که په لویه جرګه کښی وکیلانو ته قناعت ورکړی چه د داوود خان په عوض دی د دولت د رییس په توګه و ټاکی.

د ثور په کودتا کښی د موږ کورنی څو د سر سړی د لاسه ورکړل. کودتا د جمعی په ورځ ثمر ته ورسیده او د شنبی په سهار یی د روښن احمد شاه کشر ورور تاج محمد خان وردک بندی کړ او په ماښام یی پخپله روښن احمد شاه ونیو او دواړه یی د یو شمیر نورو مشرانو سره یو ځای د کابل ولایت په نظارت خانه کښی توقیف کړل. د هغه ځای نه یی څو ورځی وروسته د پلچرخی په لور روانوی پرته له دی چه دوی پوه شی چه ایا پولیګون ته روان دی او که د پلچرخی زندان ته. خو کله چی چرخی پله ته رسی موټر ښی پلو ته مخ په زندان ګرځی.

د پلچرخی په زندان کښی د امین او ترکی د ټولی شل میاشتینی دوری تر پایه پاتی کیږی. ده چی د سره هم یو څه د زړه تکلیف او د ملا او پښو د درد تکلیفونه لرل؛ خو دا تکلیفونه یی به زندان کښی لا نو ر هم عمیق شول. د شل میاشتینی زندان انځور یی په یوه کتاب کښی (بیست ماه در زندان پلچرخی) راوړی. په زندان کښی دی د نورو ډیرو مومنو او درنو افغانانو سره په اول بلاک کښی ساتل کیږی. هلته دی هم د خلکی حکومت د منسوبینو له نظره د سره نا مطلوبه څیره وه؛ خو کله چه په زندان کښی روښن احمدشاه وردک د ټولو بندیانو د روحی تقویی او تسکین په یوه مرجع بدلیږی؛ نو لا نور هم ورته په غصه کیږی او بهانی ورته ګوری چه څنګه یی شکنجه او توبیخ کړی.

یوه ورځ دی او نور د اطاق ملګری یی په یوه بهانه د زندان د قوماندان د پلوه تر عتاب او تحقیق لاندی کیږی؛ خو اصلی هدف زما پلار دی. دا نور یی هسی ورسره مل کړی. څه لیونی او بی ربطه پوښتنی یی د شکنجی د مقدمی په توګه ځینی کړی؛ نو بیا یی د برقی شوک ماشین راغوښتی. لینونه یی د لاسو او پښو په ګوتو تړلی؛ خو چی هر څه ماشین څرخوی زما په پلار تاثیر نه کوی. بیا نو قوماندان امر کوی چی لینونه یی په غوږو کښی بند کړی. دلته زما پلار ورته ویلی چه ګوره قوماندان صاحب ته که ځوان هم یی؛ خو بیا به هم باید معلومات ولری چه زه د دی وطن یو صادق خدمتګار یم هیڅ ډول رشوت او خیانت کښی نه یم ملوث؛ نو د څه د پاره می ځوروی. قوماتدان په ځواب کښی ورته ویلی چه ته خلکو ته صادق نه وی بلکه هغو زړو فاسدو نظامونو ته صادق وی؛ نو که تا غوندی خلکو دوی ته په صداقت خدمت نه وی کړی هغه نظامونه به دومره ډیر نه پاتی کیدل، ته خاین یی او ته انګریز یی.

د انګریز د خبری سره زما پلار حوصله د لاسه ورکړی او ورته ویلی چی زه په وطن سر ورکوم لعنت دی په انګریز وی او لعنت دی په تا وی. دلته قوماندان ولاړیږی دی او د ده عسکر د ټوپک په کونداغونو او لغتو دومره وه چی لکه مړی بی حرکته پاتی کیږی؛ خو تر پایه او تر بی حسه کیدو یی د عذر خواهی کلمه تر خوله نه ده ایستلی.

د دی حادثی نه وروسته څو ورځی او شپی په بستره کښی پاتی کیږی، مرحوم ډاکټر عبدالله عمر د داود خان د کابینی د روغتیا وزیر چی ورسره په یوه اطاق کښی وو در ملنه یی کوی او ځینی د پولیسو صاحب منصبان په پټه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دواوی ورته راوړی. کله چطی یو څه په پښو دریری یو ځل بیا د محبوسینو په احوال پرسی پیل کوی او کوم کسان چی تر روحی فشار لاندی نا ارام دی هغوی ته مشوری او ډاډ ګیرنی ورکوی.
جنرال غلام فاروق خان پخوانی لوی درستیز هم په لمړی بلاک کښی بندی و؛ خو د عمومی عفوی نه دوی یا دری میاشتی مخکی خلاص شو. موږ سره نژدی ګاونډیان وو. د محبس نه د کور په لار کله چه ګاونډ ته رارسی؛ نو مخکی له دی چی خپل کور ته ولاړ شی زموږ کره را وګرزیدو. تصادفا هغه ورځ زه هم په کور وم او جنرال صاحب ته می ښه راغلاست ووایه او د خلاصیدو په خاطر می خوښی ښکاره کړه. دی ډیر تم نه شو، لاس یی پورته کړل او زما پلار ته په دعا شو او وروسته یی وویل چی که چیری ستا پلار نه وی؛ نو زما به ډیر وخته زره چاودی شوی وی، ستا پلار په خپل د اخلاص او شجاعت نه ډک تلقین سره ما بیا ژوندر اکړ.
د روسانو د راتګ نه وروسته کله چه په پلچرخی کی ژوندی پاتی زندانیانو د خوشی کیدلو اعلان وشو؛ نو زه او زما ورونه هم د زندان مخی ته ورغلو. دروازی خلاصی شوی یو څه اشنا او نا اشنا کسان ووتل ؛خو زموږ د پلار درک نه و پکی. بیا اعلان و شو چه پاتی زندانیان به په بسونو کی د ښار دغی دغی نکتو ته انتقال شی تاسی هلته ورشی. هغه انتظار هم بی فایدی شو. سبا مو د ببرک کارمل د کابینی د سرحداتو نوی وزیر فیض محمد ته سپین ږیری و لیږل. فیض محمد زما د پلار د خوشحال خان لیسی شاګرد و. په همدی ورځ نوی وزیر د ما په پلار پسی خپل موټر زندان ته وایتاوه او په خپل موټر کښی یی کور ته راووړ.
روشن احمد شاه چه شل میاشتی مخکښی په پښو ولاړ او استوار سړی رژیم ته په لاس ورغلی و، کله چه بیرته راغی نو په ملا کړوپ او ډیر زهیر ښکاریدو. د محبس د عذابونو، شکنجو او کوټه قلفیو فزیکی نښی یی په صورت کښی ښکاره وی؛ خو په معنویاتو کښی یی هیڅ ډول کمزوری او تزلزل نه وو محسوس. د بند نه د خلاصیدو نه څه موده وروسته د کورنی د هغه غړو سره چه لا په کابل کښی پاتی وو یو ځای پیښور ته مهاجر شو.
په هجرت کښی د زړه د تکلیف او نورو ناروغیو سره سره د قومونو او مجاهدینو سره مرکو او روغو جوړو کښی مصروف وو. خو د هغو نه علاوه یی لیکنو او تحقیق ته هم ادامه ورکوله. خپل د زندان خاطرات یی په یو کتاب کښی د بیست ماه در زندان پل چرخی تر عنوان لاندی هملته بشپړ کړ. د هغه نه علاوه یی د هغه وخت د امکاناتو په حدودو کښی د روسانو او بالخصوص د شوروی اتحاد استعماری دسیسی، کړنی او تیریو باندی یی چه په ګاونډیو وړو هیوادونو باندی یی کړی وی کره تحقیق و کړ او اثار یی پری ولیکل.
مرحوم روشن په ۱۳۶۳ هجری شمسی کال په پیښور کښی وفات شو، ازل د الله (ج) نه مقدر وو؛ خو په عالم اسباب کښی یی سبب د مرګ هماغه نا روغی وی چه له زندان نه راوړی وی. د دومره اوږدی مودی خدمت او لویو ولایتونو د ولایت د مقامونو سره - سره د ده په دی دنیا کښی مادی میراث نه دی پریښی. صرف یو کوچنی کور ځینی پاتی دی چی هغه هم د هغی سرپناه ادامه ده چه په ۱۳۲۹ کال کښی د حکومت له پلوه د هغه وخت په مساعدو شرایطو ورکړ شوی و.

والسلام

• سردار محمد روشن د اروابناد روښندل خان روشن زوی او د اروابناد احمدشاه خان لمسی په کال 1324 هـ - ش (1945م) کې د وردګو د جغتو په ګلدره (پخوا ګنډه قول یا کهول) کې زیږیدلی.
لومړنی او منځنی زده کړې یې د پلار د ماموریت په وخت کې په غزنی، پکتیا، فراه، بدخشان او جوزجان کې بشپړې کړی او د کابل پوهنتون له اقتصاد پوهنځي څخه یی لیسانس ډیپلوم ترلاسه کړی.
سردار محمد روشن له فراغته وروسته د پلان وزارت مامور وټاکل شو. په دې وزارت کې د ده وروستی دنده د پلان ریاست و او بیا پاکستان ته مهاجر شو. روشن په کوټه کې د افغانستان د ملي اسلامي محاذ ګوند مشر پاته شوی او د استاد ربانی په وخت کې د یو څه وخت له پاره په اسلام آباد کې د افغانستان سفیر و.
سردار محمد روشن له تېرو دوولسو کلونو راهیسې په کابل کې د افغانستان د تخنیکی او مسلکی انستیتوت ATVI مشر دی چې د زرګونو ځوانو کادرونو د روزلو مرکز بلل کیږي. ATVI یوه علمی غیرانتفاعی موسسه ده چې د افغانستان د پوهنی وزارت په چوکات کې کار کوي.
سردار محمد روشن په تعلیمي مسایلو سربېره، د سیاست په ډګر کې هم فعال او د حق او عدالت ګوند د دولتي چارو د کمیټی مشر دی او اوس د شفافیت په برخه کې د ولسمشر داکتر محمد اشرف غنی د ځانګړی سلاکار په توګه کار کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ